عزت‌الله ادیب
۲۰۲۳/۰۸/۱۵

# د مختلط میتود تحقیق تاریخ او تکامل

مختلط میتود تحقیق چې عصري او پرمختللی میتودولوژیک حرکت بلل کیږي، یو ډیر بدایه تاریخ لري. دا ډول تحقیق کیفي او کمي میتودونه سره یو ځای کوي او د تګلارو د ادغام پر مټ د پیچلیو پدیدو په اړه هراړخیز پوهاوی رامنځته کوي. دا څو اړخیزه میتودولوژي د دودیزو واحدمیتود تګلارو د محدودیتونو په ځواب کې رامنځته شوی، چې په مختلفو رشتو او څانګو (صحت، تعلیم وتربیه، ټولنپوهنه، او تجارت) کې د پیچلیو پدیدو په اړه د ژور پوهاوي او هراړخیزو مالوماتو د رامنځته کولو د وړتیا لرلو له امله مشهوره شوې ده. د مختلط میتود د تاریخ او تکامل په اړه، په دې لیکنه کې د دې میتود اصلیت، پراختیا، کلیدي برخه اخیستونکو او ځینو مرحلو په شمول، د دې حرکت د تکامل او اهمیت په اړه مهم خو لنډ مالومات لولو.

د مختلط میتود اصل د شلمې پیړۍ په لومړیو کې موندل کیدای شي، او دا هغه مهال دی، کوم وخت چې څیړونکو د کیفي او کمي میتودونو د یو ځای کارولو تجربه کول پیل کړل. د همدې پیړۍ په نیمایي کې مختلط میتود د یو نوي میتودولوژیک حرکت په توګه وپیژندل شو او د څیړونکو تر منځ یې کارول عام شول. په ۱۹۶۰مو او ۱۹۷۰مو کلونو کې څیړونکي د یو واحد میتود په توګه د کیفي او کمي میتودونو محدودیتونو ته متوجه شول او د داسې تګلارې په اړه بحثونه پیل شول چې له دې ډول محدودیتونو خالي وي. په دې مهال څیړونکي په دې فکر شول، چې آیا کوم نوی او ګډ میتود به د څیړنو د پوښتنې او د یوې پدیدې په اړه د هراړخیزې پوهې په تر لاسه کولو کې مرسته وکړي که نه؟، نو له همدې ځایه د مختلط میتود نوی انقلاب پیل شو.

۱۹۸۰م د مختلط میتود پر مټ د شنني او تجربو نوې لړۍ او نوی پیر ونومول شو او د مختلفو څانګو – لکه تعلیم، ټولنیز علوم، روغتیا او نورو – څیړونکو د کیفي او کمي میتود د ادغام او یو ځای کولو ګټې بیانول پیل کړل، چې تازه یې مختلط میتود ته د دریم میتودلوژیک حرکت نوم هم ورکړ. څیړونکي د داسې څیړنیزو پوښتنو لپاره د ځواب موندلو په لټه کې شول چې د کیفي اړخه د محتوا له نظره غني او له کمي اړخه دقیق او کره وي.

په ۱۹۹۰مه لسیزه کې د مختلط میتود په اړه لا زیات کار وشو او څیړونکو د دې میتود لپاره د رسمي کړنلارو، اصولو او میتودونو په رامنځته کولو پیل وکړ، چې دا کار د همدې میتود د ډیزاین، تطبیق او تحلیل لپاره د لارښوودونو او طرزالعملونو د رامنځته کولو سبب شو. په دې موده کې د نړۍ په هره برخه کې ځینې مهمو ادارو، لکه د امریکا د تعلیمي څیړنو او رواني څیړنو ټولنو، دا میتود د یو کره، هراړخیز او ارزښتناک میتود په نوم وپیژاند، چې د پیژندنې دې رسمي پروسې د مختلط میتود شهرت لا زیات کړ او په هره برخه کې څیړونکو د دې میتود کارولو ته مخه کړه.

## تکامل

۲۱مه پیړۍ د مختلط میتود د بنسټیزه کېدو او د رسمي پروسو د رامنځته کېدو پیړۍ ده، چې په دې موده کې په مختلفو هیوادونو کې د مختلط میتود ژورنالونه رامنځته شول چیرته چې د مختلفو څانګو څیړونکو خپل کارونه او اکاډیمیک پرمختګونه شریکول او خپرول. علمي او اکاډیمیکو ادارو خپلو همکارانو او څیړونکو لپاره د رسمي روزنې روزنیز کورسونه او ورکشاپونه جوړ کړل؛ تر څو په دې برخه کې تر نورو شاته پاتې نشي، او د دې نوي میتود د تکامل په برخه کې یې برخه تر نورو برخوالو کمه او پیکه نه وي.

همدا ډول بسپنه ورکونکو ادارو، د ځینې اړینو او هراړخیزو څیړنیزو پوښتنو لپاره د ځواب موندلو په برخه کې د مختلط میتود ستاینه وکړه او دې برخې ته یې پریمانه پیسې او بودیجه ځانګړې کړه، چې دې مالي مرستې هم د دې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

نوي حرکت او انقلاب له پرمخيون سره بې‌ساري مرسته وکړه. په ټولنيزو او طبيعي علومو کې څوځانګيزه او څو اړخيزه څېړنيزې پوښتنې ډېرې عام شوې، نو مختلط ميتود د خپل انعطاف‌منونکي خاصيت او تطبيقي وړتيا په درلودلو سره د عصري څېړنې ټولې اړتياوې پوره کړلې، نو له همدې امله د دې تګلارې کارول ډېر عام شول او د هرې ځانګې څېړونکو د دې ميتود د کارولو سيالي ته را ودانګل.

## برخوال څېړونکي

د مختلط ميتود د پرمخيون او تکامل په برخه کې د ډېرو داسې څېړونکو نومونه يادول کيږي، چې دې برخې ته د ډېر کار له امله خورا مشهور دي او په دې برخه کې يې کار د ستايلو وړ دی. له دې ډلې څخه جان کراس‌ويل او قيون پاټون يادولی شو، چې د څېړنې د ډيزاين، تطبيق، تحليل او نورو برخو لپاره يې ډېر کار کړی دی. په دې موده کې د استراليا د سيډني پوهنتون پروفيسورې پاټ بزلې نوم خورا مشهور دی، چې د مختلط ميتود د ترويج په برخه کې يې ډېر اکاډيميک او د نياوغوښتنې کارونه کړي دي. د پاټ بزلې د کارونو له ډلې د هغې د کتابونو په شمول د مختلط ميتود ژورنال پر ليکه کول خورا مشهور دی، چې د څېړونکو د ليکنو د خپرولو لپاره يې مناسب پليټ فارم رامنځته کړ.
دا يوازې دوه-درې نومونه مې د مثال په ډول ذکر کړي دي، چې دې او نورو څېړونکو د مختلط ميتود تحقيق د پرمخيون او د ميتودلوژۍ د تصحيح او سوچه کولو په برخه کې ډېر زيار ايستلی دی.

## معاصر اهميت

نن ورځ، مختلط ميتود تحقيق يو بشپړ او تاسيس شوی ميتود دی، چې د مختلفو ځانګوالو څېړونکو لخوا کارول کيږي، او د دې طريقې اهميت په دې کې دی چې د کيفي او کمي ميتودونو وړتياوې له ځان سره لري او د يو واحد ميتود له محدوديتونو څخه خالي دی. څېړونکي په فعاله توګه د مختلفو ميتودونو د ادغام پر مټ ډېرو پېچليو او هراړخيزه پوښتنو لپاره د ځواب موندلو او د ژورې پوهې رامنځته کولو لپاره له دې ميتود څخه ګټه اخلي. ټيکنالوژيکي پرمختګونو د اطلاعاتو او ډاټا را ټولولو او تحليل په برخه کې ډېر پرمختللې تخنيکونه رامنځته کړي دي، چې دې کار هم د څېړونکو لپاره سهولتونه ايجاد کړي دي.
په اوسني عصر کې د مختلط ميتود، ټيکنالوژي او مصنوعي ځيرکتيا وړتياوې داسې غاړه غړۍ کار سره کوي چې د هر ډول پېچليو پديدو د شنلو او څېړلو په برخه کې يې د څېړونکو کار اسانه کړی دی، او که په سمه توګه وکارول شي، دا پرمختګونه د مختلفو پديدو په اړه داسې ژور پوهاوی رامنځته کولی شي، چې تر پرون ورځ يې چا په اړه فکر هم نشو کولای.

د اګست ۱۳م، ۲۰۲۳
عزت‌الله اديب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ